U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS

Refugees.org

# (د متحده ایالاتو د مهاجرینو او کډوالو کمیټه) خپل حقونه وپیژنئ:

د انساني قاچاق نه ژغورل شوو، پناه غوښتونکو، مؤقتي اجازه لرونکو (Parolees)، او استوګنه غوښتونکو لپاره لارښود

په متحده ایالتونو کې، د کډوالی په هر ډول کې، د اساسي قانون له مخې، هر څوک خوندي او تضمین شوي حقونه لري. دغه لارښود، د انساني قاچاق نه ژغورل شوو، پناه غوښتونکو، مؤقتي اجازه لرونکو، او نور وګړي چې د امریکا تابعیت نلري، لپاره جوړ شوی، تر څو د قانون د انفاذ ځواکونو او د مهاجرتي مامورینو سره د مخامخ کېدو پر مهال له خپلو قانوني حقونو خبر وي.

ښایي د ځینو ایالتونو قوانین توپیر ولري، او د سرحدي پوستو او د ورننوتلو پولې (ځمکني او هوایي) لپاره ځانګړي قوانین وي.

دا معلومات یوازې د پوهاوي لپاره دي او د قانوني مشورې ځای نه نیسي. که تاسو یا څوک چې تاسو یې پېژنئ، حقوقي مرستې ته اړتیا لري، مهرباني وکړئ له وکیل سره اړیکه ونیسئ.

ستاسو حقونه

- تاسو حق لرئ چې ځان له تورنیدلو وساتئ. که د قانون د انفاذ مامورین تاسو پوښتنو ته رابولي، تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ او ویلای شئ: "زه نغواړم چې ستاسو پوښتنو ته ځواب ورکړم."
- تاسو د عادلانه او انډولیز قانوني بهیر حق لرئ. که په انګلیسي ژبه خبرې کول درته ستونزمن وي، د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.
  - تاسو اړ نه یاست هغه اسناد لاسلیک کړئ چې په مفهوم او مانا یې نه پوهیږئ.
- تاسو حق لرئ د غیرقانوني تلاشي او توقیف (چې نیونه هم پکښې راځي) څخه خوندي پاتې شئ. تاسو اړ نه یاست د کور دروازه د مامورینو په مخ پرانیزئ، مګر دا چې د محکمې حکم ولري.
- که چیرې تاسو په توقیف کې نه یاست، پوښتنه وکړئ: "ایا زه توقیف شوی یم؟" که ځواب منفي وي، نو ووایئ: "کولای شم لاړ شم؟" که اجازه درکړل شي، په ارامه ځای پریږدئ.
- که د مهاجرت مامورینو لخوا ونیول شئ، تاسو د وکیل د غوښتلو حق لرئ، خو حکومت مکلف نه دی چې تاسي ته وړیا وکیل برابر کړي. نو ژر تر ژره د وکیل غوښتنه وکړئ.
- که د پولیسو لخوا د کوم جرم له امله ونیول شئ، حق لرئ چې د پلټنو په مهال وړیا وکیل (عامه مدافع وکیل) ولرئ.
- تاسو حق لرئ د خپل هېواد له قونسلګرۍ سره اړیکه ونیسئ. پولیس او مهاجرتي مامورین باید اجازه در کړي چې قونسلګري ستاسو سره په اړیکه کې شي یا مو ووینې.
- تاسو حق لرئ د ایستلو (Deportation) د حکم، د جرم د سزا، او د ځینو مهاجرتي غوښتنلیکونو د رد پرېکړې (لکه د پناه غوښتنې رد) پر وړاندې اعتراض وکړئ.
- پولیس یا د مهاجرت مامورین هېڅکله باید له تاسو پیسې و نه غواړي.

ستاسو مسؤلیتونه

- ارام اوسئ.
- آن که فکر کوئ چې حقونه مو نقض کېږي، مه تیښتئ، جګړه مه کوئ، او د پولیسو یا د مهاجرت د مامورینو کار ته خنډ مه جوړوئ.
- پولیسو یا د مهاجرت مامورینو ته هېڅ خبره مه کوئ.
- خپل لاسونه داسې ښکاره وساتئ چې پولیس یا مامور یې ووینې.
- د خپل مهاجرت د حالت په اړه دروغ مه وایئ او جعلي اسناد مه وړاندې کوئ.
- که له ۱۸ پورته عمر لرئ، هڅه وکړئ د خپل مهاجرت د حالت یو کاپي له ځان سره ولرئ.
  - یوه کاپي په خپل موبایل کې هم وساتئ.
  - که مامور ستاسو د مهاجرت په اړه پوښتنه وکړي، تاسو حق لرئ چوپ پاتې شئ او ووایئ: "زه غواړم چوپ پاتې شم، غواړم له وکیل سره خبرې وکړم."
- د یو ملګري، د کورنۍ غړي یا وکیل تلیفوني شمېره له ځانه سره وساتئ څو د نیول کېدو په حالت کې ورسره اړیکه ونیسئ.
- د خپلو ماشومانو یا د کورنۍ د نورو غړو د ساتنې لپاره مخکې له مخکې پلان جوړ کړئ ترڅو د نیول کېدو په صورت کې بې سرپرسته پاتې نه شي.
- هغه کسان چې تاسو یې ساتنه کوئ (لکه ماشومان یا مور او پلار) خبر کړئ چې که تاسو ونیول شئ هغوی باید څه وکړي.
- یو باوري کس وټاکئ چې که تاسو وس ونه لرئ، ستاسو مالي پرېکړې او د ماشومانو ساتنه وکړي.
- د مهاجرت اسناد، د جرمونو ریکارډونه او نور مهم اسناد په خوندي ځای کې وساتئ ترڅو ستاسو باوري کس ورته لاسرسی ولري.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د کورنۍ غړي یا نږدې کسان د مهاجرت شمېره (A-Number) پېژني او پوه شي چې که تاسو د ICE لخوا ونیول شئ، څنګه مو پیدا کړي.
- د مامورینو سره د مخ کېدو جزئیات په یاد وساتئ او که شوني وي، ویډیو یې جوړه کړئ.
- که احساس کوئ چې حقونه مو نقض شوي دي، لیکلي شکایت ثبت کړئ.

## د قانون پلي کوونکي مامورين يا افسران

| د متحده ایالاتونو د مهاجرت او ګمرکاتو د انفاذ اداره | د کورني امنيت د پلټنو اداره | ایالتي پولیس<br>سیمیز پولیس |
|---|---|---|
| <br>Photo: ICE.gov | <br>Photo: ICE.gov | <br>Photo: iStock |
| د آیس اداره د سیمیزو پولیسو سره په ګډه د کورونو او د کار په ځایونو چاپې او عملیات کوي | د کورني امنيت د پلټنو اداره د پولو دباندې جرمونه څېړي او د کار په ځایونو چاپې کوي | پولیس معمولاً د سیمیزو جرمونو د څېړلو او ارزونو مسؤلیت لري. د پولیسو ځینې افسران ښايي د مهاجرت له مامورينو سره یوځای وي او د هغوی سره مرسته وکړي. |
| تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. | تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. | تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. |
| تاسو حق لرئ چې وکيل له ځان سره ولرئ، خو آیس مکلف نه دی چې تاسو ته وکيل برابر کړي | تاسو حق لرئ چې وکيل له ځان سره ولرئ، خو د کورني امنيت د پلټنو اداره مکلفه نه ده چې تاسو ته وکيل برابر کړي. | تاسو حق لرئ چې وکيل له ځان سره ولرئ، او که د جرم شک درباندې وي، پولیس مکلف دي چې تاسو ته وکيل برابر کړي. |

کېدای شي د نورو ادارو لکه د کورني امنيت اداره، د الکولو، سګرټو او چاودېدونکو توکو اداره، او د فدرالي پلټنو اداره د قانون د پلي کولو مامورين يا افسران تاسو ودروي.

## کله چې د قانون د پلي‌کولو مامور يا د مهاجرت مامور تاسو په سړک ودرولي

- که څوک ادعا وکړي چې د قانون د پلي کولو مامور دی، ترينه وغواړئ چې خپل کارت يا پېژندپانه دروښيي. د پېژندپانې نمبر وليکئ.
- پولیس يا د مهاجرت مامورين کولای شي ستاسو نوم وپوښتي. که هغوی نورې پوښتنې وکړي، تاسو کولای شئ وپوښتئ: "آيا زه نيول شوی يم؟" که ځواب منفي وي، پوښتنه وکړئ: "کولای شم لاړ شم؟" که وويل شي چې تاسو تللی شی، په ارامه ځای پرېږدئ.
    - که تاسو ته وواېي چې بايد ودرېږئ او د تلو اجازه نه لرئ، تاسو حق لرئ پوښتنه وکړئ چې ولې؟
- که هغوی بيا هڅه وکړي له تاسو پوښتنې وکړي، سمدستي ووايئ: "تر هرې پوښتنې مخکې زه غواړم له يو وکيل سره خبرې وکړم." له دې وروسته مامور مکلف دی چې پوښتنې او پلټنه ودروي.
- تاسو تل د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. هر هغه څه چې ووايئ، کېدای شي ستاسو په خلاف وکارول شي.
- د خپل مهاجرت د وضعيت يا تابعيت په اړه له پوليسو يا د مهاجرت له مامورينو سره خبرې مه کوئ.
- که پولیس يا د مهاجرت مامور ستاسو نه د خبرو ايستلو لپاره هر څه ووايي، باور مه پرې کوئ.

- که د مهاجرت مامور له تاسو د مهاجرت اسناد وغواړي او تاسو يې لرئ، باید هغه وروښيئ. مهمه يادونه: تاسو مکلف نه یاست چې د مهاجرت اسناد سیمیز یا ایالتي پولیسو ته وښيئ.
- د بدن، بکس، یا وسایلو د لټون اجازه مه ورکوئ. که د لټون اجازه ترې وغوښتل شوه، تاسو حق لرئ ووايئ: "نه، زه اجازه نه ورکوم."
  - که مامور تاسو لټوي، یوازې د بهرنيو جامو په سطحه لاس تیرولای شي. مامور نه شي کولای پرته له دلیل ستاسو جیبونه ولټوي، مګر که د لټون پر مهال داسي فکر وکړي چې وسله لرئ.
  - که لټون ته ادامه ورکوي، ورته ووايئ: "زه د دې لټون سره موافق نه يم."
- خپلې جېبونه په خپله مه خالي کوئ، وسایل مه غورځوئ، او کله چې مامور نږدې کېږي، لاس کمربند یا ملا ته مه وړئ.
- مهاجرتي مامورين او ځيني ايالتي پوليس کولای شي یوازې ستاسو نوم، پته، عمر یا پېژندپانه وغواړي. که يې دا معلومات وغوښتل، په ارامه او ریښتيني ډول معلومات ورکړئ. درواغ مه وايئ.

## که د قانون د پلي‌کولو مامور یا د مهاجرت مامور ستاسو کور ته درشي

- که پولیس یا د مهاجرت ماموران ستاسو کور ته درشي، تاسو اړ نه یاست دروازه ورته پرانیزئ، مګر دا چې د قاضي لاسلیک شوی د تلاشي حکم ولري.
  - دروازه مه پرانیزئ. د کور له دننه د ترلي دروازې یا کړکۍ شاته ورسره خبرې وکړئ. ووايئ: "زه تاسو ته د کور د ننوتلو اجازه نه درکوم."
  - ترینه وغواړئ چې نښه یا پېژندپانه د کړکۍ یا د دروازې د کمرې له لارې وښيي.
  - که ووايي حکم لري، وغواړئ چې حکم د دروازې لاندې یا له کړکۍ دننه وغورځوي.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې په حکم کې ستاسو پته سمه لیکل شوې وي.
  - یوازې ایالتي یا فدرالي قاضیان کولای شي د تلاشي حکم لاسلیک کړي. د مهاجرت قاضي نه شي کولای د تلاشي حکم لاسلیک کړي.
  - که ډاډه نه یاست، پوښتنه وکړئ کوم قاضي حکم لاسلیک کړی یا وخت وغواړئ چې وکیل ته زنګ ووهئ.
- که مامورين د تلاشي حکم ونه لري، تاسو اړ نه یاست دوی ته د ننوتلو اجازه ورکړئ. ورته ووايئ: "زه تاسو ته د ننولو اجازه نه درکوم." او تاسو کولای شئ چې له هغوی سره د خبرو کولو نه ډډه وکړئ.
- د نیوني حکم د تلاشي له حکم سره مه ګډوډوئ:
  - د تلاشي حکم مامورينو ته اجازه ورکوي چې کور ته دننه شي او کور ولټي.
  - د نیوني حکم مامورينو ته اجازه ورکوي چې تاسو د نیولو لپاره کور ته راشي، خو د کور د لټون اجازه نه لري.
  - د ايستلو/دیپورت حکم مامور ته کور ته د ننوتلو اجازه نه ورکوي.

- که مامورین د معتبر حکم په اساس کور لټوي:
  - که تاسو له نورو غیر تابعیت لرونکو کسانو سره یو ځای اوسئ، غوره ده چې ژر تر ژره له کوره ووځئ او دروازه وتړئ، تر څو د آیس لخوا د کورنۍ نورو غړو د نیولو مخه ونیول شي.
  - د لټون پر مهال تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. ووایئ: "زه ستاسو پوښتنو ته ځواب نه ورکوم."
  - تاسو حق لرئ وکیل ولرئ، او که د جرم شک درباندې کیږي، پولیس مکلف دي چې وړیا وکیل درته برابر کړي. تاسو کولای شئ ووایئ: "زه وکیل غواړم."
  - د مامورینو مخه مه نیسئ او هغو ځایونو ته چې په حکم کې یاد شوي، د هغوي د ننوتلو مخه مه نیسئ.
  - دروغ مه وایئ او جعلي اسناد مه وړاندې کوئ.
  - هېڅ سند مه لاسلیک کوئ، هغو چې مو له وکیل سره مشوره نه وي کړې.
- که مامورین په زور کور ته ننوځي، مقاومت مه کوئ. ورته ووایئ: "زه ستاسو له ننوتلو او لټون سره موافق نه یم، زه د چوپ پاتې کېدو حق کاروم او غواړم له یو وکیل سره خبرې وکړم."
- د پېښې جزئیات په یاد وساتئ او که کولای شئ، ویډیو یې جوړه کړئ.
- که په انګلیسي خبرې کول درته سخت وي، د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

## کله چې قانون د انفاذ مامور یا د مهاجرت مامور تاسو په خپل موټر کې ودروي

- په ټولو درولو کې:
  - پولیس یا د مهاجرت مامورین معمولا د څراغونو او هارن په وسیله تاسو دروي. که داسې وشول، بیړني/ایمیرجنسی څراغونه روښانه کړئ، سرعت کم کړئ او ژر تر ژره په یو روښانه عام ځای کې ودریږئ.
  - موټر بند کړئ، د موټر دننی څراغونه بل کړئ، ښیښه لږ ښکته کړئ او لاسونه د موټر په اشتیرنګ ونیسئ.
  - هم موټروان او هم سپرلۍ د چوپ پاتې کېدو حق لري. که سپرلی یاست، تاسی کولی شئ چه پوښتنه وکړی: "کولای شم لاړ شم؟" که اجازه درکړل شي، په ارامه ولاړ شئ.
- که پولیس تاسو ودروي:
  - که پولیس تاسونه د نوم او د ډریورۍ لایسنس معلومات وغواړي، باید ورېې کړئ.
  - د پولیسو نه پوښتنه وکړئ: "د درولو دلیل څه دی؟" تاسی کولی شئ چه پوښتنه وکړی: "کولای شم لاړ شم؟" او که اجازه ورکړل شوه، په ارامه شیشه پورته کړی او ولاړ شئ.
  - که د ترافیکي سرغړونې له امله ودرول شئ، پولیس کولای شي لایسنس، د موټر راجستر او د بیمې سند وغواړي. که دا اسنادونه لرئ، باید ور وښیئ.
  - نورو پوښتنو او د مهاجرت په اړه پوښتنو ته ځواب مه ورکوئ. ووایئ: "زه ستاسو پوښتنو ته ځواب نه ورکوم."

- پولیس کولای شي د معقول دلیل پر اساس موټر ولټوي. دا حق د مهاجرت مامورینو ته نه دی ورکړل شوی. که پولیس باور ولري چې ستاسو په موټر کې غیرقانوني توکي شته، مقاومت مه کوئ.
- پولیس کولای شي د امنیت د ساتنې لپاره تاسو او سپرلۍ له موټره وباسي. که داسې غوښتنه وشوه، په ارام او کراره ورسره همکاري وکړئ.

- که د مهاجرت مامور تاسو ودروي:
  - که د مهاجرت مامور تاسو ودروي، اړتیا نشته چې د موټروان سربېره، نور څوک وروپېژنئ. که پوښتنه وکړي چې نور کسان څوک دي، ووایئ: "هغوی زما سپرلۍ دي."
  - د مهاجرت مامور کولای شي د خپل امنیت لپاره، تاسو او سپرلۍ له موټره وباسي. که داسې غوښتنه یې وکړه، په ارامۍ ورسره همکاري وکړئ.
  - که د مهاجرت مامور وغواړي چې موټر ولټوي، یوازې د یو معتبر تلاشي حکم په شتون کې چې د ایالتي یا فدرالي قاضي له خوا لاسلیک شوی وي (نه د مهاجرت قاضي)، کولای شي دا کار ترسره کړي.
  - که د مهاجرت مامور باور ولري چې تاسو د مهاجرت قانون مات کړی، کولای شي ستاسو د ګوتو نښې واخلي.

## کله چې د قانون د انفاذ مامور یا د مهاجرت مامور ستاسو د کار ځای ته راشي

- د مهاجرت مامورین کولای شي د کار ځای عمومي برخو ته ننوځي. د غیر عمومي برخو (لکه د کارکوونکو خونې، پخلنځي، رستورانت، کرنیز ځایونه او نور) لپاره باید د ځای د څښتن یا د کار ځای د مدیر اجازه ولري، ترڅو د لټون عملیات ترسره کړي.
- که مامورین د ننوتلو اجازه ونه لري، نو باید د فدرالي قاضي یا قضایي څارونکي له خوا لاسلیک شوی د تلاشي حکم ولري.
- که د مهاجرت مامورین د کار ځای د لټون اجازه ولري، کولای شي کارکوونکي له ځای پرېښودو منع کړي.
- د مهاجرت مامورین د دې لپاره چې تاسو، ستاسو وسایل یا د کارکوونکو الماری ولټوي، جلا دلیل یا د قاضي جلا حکم ته اړتیا لري.
- تاسو حق لرئ چوپ پاتې شئ.
- تاسو حق لرئ د هر ډول سند د لاسلیک کولو ډډه وکړئ.

## کله چې ستاسو د مهاجرتي وضعیت په اړه پوښتنه وشي

- تاسو حق لرئ چوپ پاتې شئ.
- د خپل مهاجرتي حالت یا تابعیت په اړه د پولیس، د مهاجرت له مامورینو یا هر بل چارواکي سره خبرې مه کوئ.

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS

Refugees.org

- تاسو اړ نه یاست چې د خپل د زیږون ځای، د امریکا د تابعیت، یا د دې په اړه چې څنګه هېواد ته راغلي یاست، پوښتنو ته ځواب ورکړئ. باید پوه شئ چې په نړیوالو پولو، هوایي ډګرونو او د ځینو ځانګړو ویزو (لکه ګرځندوی یا سوداګریز ویزې) لرونکو لپاره قوانین توپیر لري.
- که تاسو له ۱۸ کالو پورته یاست، هڅه وکړئ تل د خپل مهاجرتي حالت اسناد له ځانه سره ولرئ. که اسناد نه لرئ، ووایئ: "زه نه غواړم ستاسو پوښتنو ته ځواب ورکړم."
- د خپل تابعیت په اړه هېڅکله درواغ مه وایاست او جعلي اسناد مه وړاندې کوئ.

## کله چې د قانون د انفاذ مامور یا د مهاجرت مامور تاسو ونیسي (توقیف مو کړي)

- د پولیسو یا د مهاجرت له مامورینو سره خبرې مه کوئ. تاسو تل د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. هر څه چې وایاست، کېدای شي په محکمه کې ستاسو پر ضد وکارول شي.
- ورته ووایاست: "زه غواړم له یو وکیل سره خبرې وکړم." له دې شیبې وروسته، مامور باید پوښتنې او پلټنه ودروي.
- که تاسو د پولیسو له خوا د یوې جرمي قضیې په تړاو ونیول شئ، حق لرئ یو وړیا وکیل (عامه مدافع وکیل) ولرئ.
- که د مهاجرت مامور تاسو ونیسي، تاسو حق لرئ د خپل مهاجرتي وضعیت د څېړنې لپاره یو وکیل ولرئ، خو دولت مکلف نه دی چې وړیا وکیل درکړي—نو ژر تر ژره د وکیل غوښتنه وکړئ.
- که په انګلیسي خبرې کول درته ستونزمن وي، د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.
- هېڅ سند مه لاسلیک کوئ، ترهغو چې مو له وکیل سره مشوره نه وي کړې.
- که د مهاجرت پولیو یا آیس له خوا ونیول شئ، سمدستي وکیل یا د کورنۍ یو غړی ته زنګ ووهئ. تاسو حق لرئ د نیول کېدو وروسته یو تلیفوني تماس ولرئ.
- د ضمانت غوښتنه وکړئ او خپله قضیه قاضي ته وړاندې کړئ، آن که د مهاجرت مامور تاسو ته ووایي چې تاسو وړ نه یاست.
- د خپلو ټولو مهاجرتي اسنادو د کاپي غوښتنه وکړئ.

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ له دې پتې سره اړیکه ونیسئ: policy@refugees.org

دې پتې ته ایمیل لیږل د محرمیت ضمانت نه کوي. که تاسو قانوني مشورې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ له یو وکیل سره اړیکه ونیسئ یا د لاندې لینک له لارې معلومات ترلاسه کړئ:

https://refugees.org/legal-services